پوهاند محمد بشیردودیال ۲۰۱۹/۱۱/۱۷

# د خشونت (تاوتریخوالی) په کمښت کې د مدنی ټولنې نقش

## ( د لیندی ځلورمې، د ښځو په وړاندی د تاوتریخوالی د مخنیوی د ورځې په مناسبت)

**سریزه**

لکه څرنګه چې ښکاری دې وروستیو کې په افغانی ټولنه کې د تاوتریخوالی پیښې ډیرې شوی دی. زیاتره تاوتریخوالی شخړو او جنګونو سره ارتباط ورکول کیږی. په عمومی توګه داسې فکر کیږی چې شخړی،جنګونه او تاوتریخوالی یو بل سره یو شانته دی. په دې توګه باید دغه مغالطه روښانه شی او بیا وروسته تاوتریخوالی تعریف او توپیر یې له شخړی( منازعی) اوجګړې سره وشی. کله چې ددغو دوو مفاهیمو او ټولنیزو واقعیتونو تفکیک وشی، وروسته بیا کیدای شی ددواړو په عواملو هم خبری او فکر وشی او په مخنیوی کې یې لازم ګامونه پورته شی. مدنی ټولنه هغه اغیزمنه مرجع ده چې د تاوتریخوالی په کمښت او مخنیوی کې ډیر ښه رول ادا کولای شی. په افغانی ټولنه کې د تاوتریخوالی د له منځه وړلو یوشدید ضرورت احساس کیږی، پرته له هغه ممکن دغه منفی ټولنیزه ښکارنده ډیرې ارخې پایلې ولری . په دې لړ کې یو هم دعلمی سیمنارونو او تحقیقی څیړنو د ترسره کولو لارې چارې دی.

تاوتریخوالی (Violence) یعنی څه؟

تاوتریخوالی چی خشونت هم ورته ویل کیږی،هغه ډول چلند، کړنې،الفاظ،انګیرنې، جبرېښتونه، نظامونه اورفتارونه دی چې دجسمی، روحی یا محیطی زیانونو لامل شی، یا داسې یو چلند،نظام، کلمات اوبرخورد چې وګړی د دوی له بالقوه انسانی استعدادونو بی برخې او د دوی د ظرفیتونو د اوچتیدو خنډ شی. د تاوتریخوالی ډیر بد خصوصیت دا دی چې زیاتره وخت یې ریښې د خشن وګړی په ذهن کې پټې وی او لکه د شخړی او جګړی په شان برسیره او څرګندی نه وی، نوځکه یې حل هم ستونزمن او پیچلی او تر دیره بریده روانی او روزنیزو میتودونو پورې تړلی دی. شخړه او جنګ فقط طرفین زیانمن کوی، خو تاوتریخوالی بینادونه او ټولنیز بنسټ او ټاکلی قشرونه زیانمن او آن انسانی بالقوه استعدادونه له منځه وړی او اهدافو ته د ټولنیزو قشرونود رسیدو مخه نیسی، متعالی ارزښتونو ته چلنج، د نوښت دښمن او په نهایت کې د ټولنې د وروسته پاتیوالی لامل ګرځې. په شخړه کې چلند، کلمات،نظام ، جوړښت او لید لوری دی چې پایله یې محیطی، روحې او یا هم جسمی زیانونه دی.

تاو تریخوالی دوه برخې لری:

- دلیدو وړ ،لکه : فزیکی چلند ( چې متاسفانه د وهلو- ټکولو،ویرولو،ګواښ اوکړاو ورکولو په بڼه تر سترګو کیږی.
- نه لیدونکی، لکه: تفکر، قضاوت، نظام،اساسی ساختارونه، په پریکړه کی چلند او اجتماعی برخوردونه.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

البته شخړه، جګړه او خشونت یو بل سره تړاو هم لری او د اصلاح وړ هم دی. د دې ټولو اصلاح د پوهې او ښوونی او روزنی لوړې کچې، متعالی فرهنګ، عقلانی چلند او دانسانی ارزښتونو ځلولو پورې اړه لری، چې دغه مسئولیت تر ډیره دولتی او رسمی نهادونو او تر ډیره بیا دمدنی ټولنې په غاړه دی. دتاوتریخوالی سرچینې (عوامل) دا دي:

- احساسات او د ارزښتونو د درجې ټاکل
- کرکه او ویره
- بی توپیره حالت
- نژاد پالنه، مذهبی تعصبات.
- جنسیت (جندر)
- دپوهې ډیره ټیټه کچه
- دحقوقو او آزادی محدودیت( مثلاً اپارتاید)




## شخړه ( Conflict)

ډیر ځله منازعه او شخړه یو د بل پر ځای هم استعمالیدای شی. په لغت کې یې معنا سره منښودل کیدل، یو بل څخه جلا کیدل، کشمکش او یو دبل مخی ته ورتلل (تقابل او تعارض) دی.

په اصطلاح کې شخړه (Conflict) د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو(حقیقی او حکمی) تر منځ داسې یو اختلاف ته ویل کیږی، چې یو بل سره توپیر لرونکی اهداف لری یا فکر کوی چې اهداف یې یو بل سره برابر نه دي، دا یو ناوړه حالت دی. دغه اشخاص به یا وګړي وي، یا به ډلې او سازمانونه وي یا به هم حقیقي او حکمي اشخاص وي او یا به هم د سازمان دننه سازمان پورې اړوند کارکوونکی وی. کله چې خلک یو بل سره متضاد او متناقص اهداف ولري، یو بل سره په شخړه اخته کیږي.

شخړه داسې هم تعریف شوی ده : یو بل سره دتعاملاتو د لرونکو اشخاصو ترمنځ د ګټو ټکر، شخړه ده.

یا : د دوو طرفینو د موخو او غوښتنو ترمنځ عدم توافق.

یا: هغه حالت چې د یوې ډلې د پرمختګ څواک د بلې ډلې له خوا خنډ سره مخامخ شی.

ځینو نورو بیا شخړه داسې هم تعریف کړی ده: د ښکاره او پټو موخو ترمنځ نه یووالی او عدم تطابق.

شخړې د دوو تنو، ډلو، سازمانونو، ملتونو، ټولنيزو اړيکو، اقتصادي اړيکو او د قدرت د روابطو ترمنځ پيښيداى شي. شخړې په دغه ډول اړيکو کې د بې توازني له امله او د ساحاتو او د دغو غوښتنو تر منځ په توپير سره منځته راځي. لکه چې پوهيږو د وګړو اړتياوې د يوه هرم بڼه لري چې قاعده او بنسټ يې فزيالوژيکې اړتياوې دي، وروسته بيا امنيتي اړتياوې مخې ته راځي او ورپسې ټولنيزې او روحي اړتياوې دی. کله چې يو څوک د دغو اړتياوو کمښت احساس کړي، مقاومت او شخړې ته لاس اچوی چې پايله يې په شخړه کې ښکيل کيدل دی. دغه شخړې ځينی وخت پټه او ناڅرګنده بڼه لري، ځينی وخت برسيرني او سپکی وي، خو ځينی وخت شخړی ژورې او بيخلني او ډيرې څرګندې او ويجاړوونکی وي. زياتره شخړې مادی او حقوقی او لږ شمير يې ټولنيزی، سياسی او کلتوری بڼه لري، خو بيا هم مهم لامل يې مادی امتيازات، دريځونه ترلاسه کول، متضادی انګيزې، ناوړه پوهېدنه، يو بل سره په تضاد کې هدفونه لرل، پراختيا غوښتنه او قدرت غوښتنه او دې ورته نور لاملونه دي.

اما، بايد هيره نه کړو چې ځينی وختونه که له مثبته پلوه وګورو،د نظرونو اختلاف د تکامل او د يوې ښې پايلې لامل هم کيدای شی، خو دا هغه وخت چې يو د بل د قناعت وړ وګرځی او پايله يې يوه منطقی نتيجه وی، نه جګړه. يعني که دشخړی پايله په جګړی پای ته ونه رسيږی، بلکې د يوه معقول حل باعث شی، بيا نو شخړه، اختلاف او د نظرونو توپير د مضروالی پر ځای مفيده هم وی!

د شخړې يوه حيرانوونکی بڼه د متضادو نظرياتو او انګيزو لرل دي. دغه متضاد نظرونه او انګيزې د قدرت غوښتني او پراختيا غوښتني په پرتله ډيرې ويجاړوونکی نه دی، بلکې زياتره وختونه غنا ښونکی او نوښت لرونکی هم وي، چې د نظرونو د توپير په پايله کې يوه ډير ښه درېيمه لاره را پيدا کولای شي. شخړې، د نظراتو توپير او د انګيزو بيلوالی د ژوند يو واقعيت دی. سوله او شخړه د يوې سکې دوه مخونه دي. کې شخړی معمولا د موقفونو، د دندو د تداخل، د روابطه ناوړه تامين، د ناوړه مفاهمی، د صلاحيتونو دويش او دی ته ورته مسايلو له امله واقع کيږی. له نيکه مرغه زياتره شخړې د حل وړ دي. د شخړی هوارول (Conflict Resolution) يوه معموله او ډيره ګټوره ښکارنده ده، چې د نويو اړيکو د جوړولو او ښکيلو اړخونو ترمنځ د نويو او پاييدونکو اړيکو لامل ګرځي. د شخړې هوارول له يرغل څخه ډک چلند ته د پای د ټکی کيښودل دي. د شخړی مديريت د ښکيلو اړخونو په چلند کې د مثبت بدلون راوستل او د دوی په فکر او چلند کې په زړه پوری تغيير او په راتلونکی کې له تاوتريخوالي او جګړی څخه د ډډه کولو او د نورو اختلافاتو کمول دي. تاوتريخوالی او جګړه د شخړی پايله ده، يعنی شخړه ، تاوتريخوالی او جګړه يو بل سره توپير لري، حتمی نه ده چې د هرې شخړې پای به جګړه اوتاوتريخوالی وی. له يوې خوا که منازعات د تکامل لامل کيږی، له بلې خوا تاوتريخوالی او خشونت پرته له منفی عواقبو نور هيڅ هم نلری.

**جګړه ( War)**

د دوو يا څو لوريو ترمنځ داسې مخامخ کيدل چې يو پر بل د يرغل شکل لری، چې زياتره د فزيکی ټکر په بڼه پيښيږی. که دواړه لوری کومی جنګی وسيلی باندی سمبال وی وسله وال جنګ بلل کيږی. دا يو نهايت قهرآميزه عمل دی چې پر مقابل لوری يا د بريد په موخه يا هم له خپل حق څخه د ساتنې په موخه واقع کيدای شی. کيدای شی جګړه د هغه فشار او زور په وړاندې مقاومت او ټينګار وی چې پر ده باندی تحميل شوی وی، يا هم کيدای شی د هغی ستونزی او ناوړه پوهيدنی د له منځه وړلو په موخه وی چی له سوله ييزی لاری او د تفاهم په واسطه نه وی حل شوی. يعنی لومړی به يې خامخا د شخړې بڼه لرله چې وروسته بيا د جګړې حالت ته رسيدلی وی. جګړی او شخړې د جګړی او شخړې د عامل په له منځه وړلو سره، ډير ژر او آنی حل کيږی، خو تاوتريخوالی د دې دوو په پرتله ډير کار ته اړتيالری، يعنی تاوتريخوالی يوه ډيره بده منفی تولينزه پديده ده.

دخشونت په له منځه وړلو کې د مدنی ټولنې رول

مدني بنسټونه په ټولو ټولنو او ټولو چارو کې چې د خلګو او د هغوي د چارو سره سر او کار ولري اړيکه لري يا خو هغه تامينوي او يا خو د هغوي څخه ساتنه کوي.په حقيقت کې د مدني بنسټونو قوي شتون د يوې ټولنې د پرمختيا سره مستيقمه اړيکه

لري. مدني ټولنه او بنسټونه د ټولنیزو کتلو په وسیله جوړیږي، چې د دولت د محدودې ځخه بهر، د ټولنیزو مناسباتو د بشري حقوقو د ارزښتونو د رشد په لاره کې، دموکراسي او د قانون حاکمیت، د مشترکو برنامو تر لاس لاندي نیول، د همکار او مدد کوونکي اتباعو په توګه، کار او فعالیت کوي.زموږ هیواد کې هم مدني بنسټونه د قوانینو پربنسټ په رسمیت پیژندل شوي او کولاي شي خپل نظارتي او حمایوي رول په ټولنه کي تر سره کړي.

دموکراسي په یوه معني د حکومت پر کړنو باندي د خلګو نظارت ته وایي، دضرورت پرمهال دفشار دیوی وسیلی په توګه عمل کوی. مدنی ټولنه په ډیره ښه ډول په هغو ټولو جریاناتو نظارت کولای شی چی د خشونت لامل کیږی او یاهم د خشونت نښې پکې ښکاری. دغه نظارت په څو ډولونو باندي پلي کیداي سي، چي د هغو له ډلي څخه یو یي هم د مدني ټولنو او مدني بنسټونو تشکیل او بیا د هغو په وسیله د نظارت تر سره کول دي. مدني ټولنی سیاسی احزاب او سیاسی قدرت کې سهیم ځواکونه نه دی، بلکې مدني ټولني صنفي، حرفه اي او وګړیز تشکیلات دي چي د وګړنیز قدرت په لرلو سره، د خلګو غوښتني د حکومتي مقاماتو تر غوږونو رسوي او ضمناً د هغه اختیاراتو او قدرت ته په پاملرني سره چي د خلګو په منځ کي ئي لري کولاي سي په خپله یو شمیر مسولیتونه اودندي پر غاړه واخلي.په داسی مواردو کي مدني بنسټونه په حقیقت کی یوه دفشار وسیله ګرځی او اصلاحی رول لوبوی، خودغه بنسټونه باید وګړنیز،آګاهانه او په بشپړ ډول د خلګو په وسیله رامنځته سي او په خپله د ولسونو په وسیله پراختیا پیداکړي. په دي برخه کي د دولت حداکثر کار چي باید تر سره یي کړي دادي چي د مدني بنسټونو په وړاندي پراته خنډونه لیري کړي.

### ۱.مدنی ټولنه اود تاوتریخوالی په وړاندی اعتراض

مدنی فعالان دټولنی هرګوټ کي پټ او ښکاره نالایمات درک او ورڅخه خبریږی. دوی دټولنی د آګاه او زړه سواندو عناصرو په توګه ددغو نالایماتو په وړاندی غږاوچتوی او تولنه اصلاح ته رابولی. په دي صورت کي، حرکات او منطقي سازمان یافته بنسټونه چي د خلګو دمشارکت په بر کي نیولو سره رامنځته سوي وي کولاي سي چي د خلګو د حقوقو د غوښتلو او د هغه څخه د ملاتړ زمینه په ابتکاري او خپلواک او په همږغي توګه په ملي بنسټونو کي د مشارکت له لاري مساعده کړي.

### ۲. مدني بنسټونه د دموکراسی یو شرط

((مدني بنسټونه)) عبارت له هغه بنسټونو یا نهادونو څخه دي چي دولتونه، د خپل اساسي قانون پربنسټ او یا د عادي قوانینو په اجرا کي، د هغو په تاسیس لاس پوري کوي، چي له دي طریقه، په بشپړ مشخصو سازکارونو، د بشرحقوقو د ارتقاء او د هغه څخه د ملاتړ زمینه مساعده کړي. د مدني بنسټونو څخه د ملګرو ملتونو په یو تعریف کي داسي ویل شویدي چي مدني بنسټونه غیرانتفاعي داوطلبانه، د یو هیواد داوسیدونکو څخه په سیمه آییزه، ملي او بین المللي کچه تشکیل سوي وي مدني بنسټونه بلل کیږي.

### ۳. د مدني بنسټونو رول

مدني بنسټونه د خشونت په وړاندي دروا مبارزی ملاتړ کوی او هغه وګړی او اقشار چی له تاوتریخوالی سره مخامخ دی. دوی هغه حرکت او نهضتونه پیاوړی کوی چي د دموکراتیکو ټولنو د مهمترینو سکتورونو څخه د قانون حاکمیت تر چتر لاندي تشکلیږي، او د یوي داسي حوزي په عنوان په کوم کي چي تصمیم نیونه د ولسونو د ټولیز او فعاله مشارکت په لړکي په آزادو او برابرو شرایطو کي صورت نیسي، او تل یي د قانون حاکمیت د خپلو کارونو او چارو د سرته رسولو په لومړیتوب کي نیولي او په لاندي عرصو کي لګه:

-د دموکراسی په تعمیم کي د رسنیو نقش

- اطلاعاتو ته لاسرسي

- د ملي غونډو راغونډتل، دمذاکراتو پرمخ بیول
- له تاوتریخوالی څخه تیریدنه
-کډوال، مهاجرین او بشر حقوق
- لوږي(فقر) او بشر حقوق
- تعاملي عدالت
- دموکراسي، ټولټاکني او د سیاست انساني کول
- دبشر حقوق، فرهنګ، ښوونه او روزنه کي فعالیت کوي.

د خلګو او اداري ترمنځ د همکارۍ او اعتماد فضا رامنځته کول د اداره کوونکو او اداره کیدونکو ترمنځ ډیره مهمه مسئله بلل کیږي یعني په دې مفهوم چي اداره باید د لاښه رونتیا یا شفافیت او د خلګو د باور د لاسته راوړلو په خاطر ټول موارد باید د خلګو سره شریک کړي. (د عمومي اړیکو اداره) په ټولو اداري سازمانونو کي د خلګو او اداري ترمنځ د ښو اړیکو لپاره منځته راغلي ده، ولي دا اداري په هیڅ ځاي کي بریالي نه وي او نه دي. ځکه چي اداره تل کولاي سي چي د (عمومي اداري مصالحو)، (اداري اسرار) او د هغه په شان نور مواردو په بهانه پټ سوي او کولاي يي سول چي خپلو کارونو ته په یادو بهانو سره مشروعیت وبخښي. بناء داسي څرګندیږي چي د افغانستان ادارو هم د پورته بهانو په وړاندي کولو سره تل هڅه کړي تر څو خپل ځان او اداري واقیعتونه د خلګو څخه پټ او خپلو نامشروع اعمالو ته د مشروعیت ورکولو هڅي وکړي، چي د خلګو او اداري همدا لامل د دي باعث سو چي اهسته، اهسته د خلګو او ادارو ترمنځ اړیکي لیري او يو مشخص واټن رامنځته سي او په داسي حالت کي دغه ډول اداره د خشونت مخه هم نشی نیولای. اوس داسي څرګندیږي چي په افغانستان کي د خلګو او ادارو ترمنځ د باور او شفافیت رامنځته کولو فضا په نسبي توګه له منځه تللي، نو له دی ضعیفی اداری څخه د خشونت دمخنیوی ډیره تمه هم نشی کیدای. بیا هم د افغانستان اداره هڅه کوي تر څو د هیواد د اساسي قانون او نورو نافذه قوانینو په نظر کي نیولو سره خلګو ته ځواب ویونکي و اوسي او دي موخي ته د رسیدو په خاطر غواړي چي د مدني بنسټونو سره نسبتاً نژدي اړیکي وساتي تر څو خلګو ته وښيي چي د افغانستان اداره هم د نورو دموکراتیکو هیوادونو په څیر د خلګو باور جلبولاي سي او خلګو ته د عامه خدمتونو د وړاندي کولو په برخه کي نسبتاً توانایي لري، د اداری د ضعف سره سره که داسی فضا موجوده وی چی مدنی فعالان هغی فضا کي کار وکړی، نو دا ډیره دخوشبختی خبره ده باید مدنی فعالان له دغی مساعدی فضا څخه ګټه پورته کړی او دخشونت په وړاندی غږ اوچت او ولسونه راویښ کړی. موږ پوهیږو چي افغانستان هم د مخ پروده هیوادونو څخه دي او د مدني بنسټونو رول پکښي نسبتاً ډیري تاریخي ریښي نلري نو ځکه لا اوس هم د افغانستان د خلګو سره د مدني بنسټونو په اړوند ګونګ سوالونه پاتي دي. د بیلګي په ډول دا چي مدني بنسټونه کومي دندي لري؟ د کومو لارو چارو په وسیله د عامه اداري په چارو باندي نظارت کوي او دي ورته نوري پوښتني. دلته ضروری ده چي مدنی فعالان په ټولنه کی خپل محبوبیت زیات کړی. موږ د افغانستان معاصر تاریخ کی د مشروطه خواهانو او ویښ زلمیانو تجربه مخکی لرو. ویښ زلمیانو په ریښتیا چي هم محبوبیت درلود او هم يي خپل وخت کي ډیر عالی اصلاحی قدمونه اوچت کړل (صرف نظر له دې چي ځینو ورته دیوه ګوند اوسیاسی حرکت په توګه کتل).

## په افغانستان کي د مدني بنسټونو نظارتي رول

پدي مفهوم کي، نظارت یا څارنه په سیستماتیکه توګه د ټولنیزژوند په چاپیریال کي د عامه سوکالی،عادی جریاناتو، حقوقی نظام، معاملاتو او خدمتونواو دژوند دټولواړخونو په اړوند د مدني بنسټونو په وسیله د اطلاعات راټولول او دهغوي تحلیلول دي. په دغه ډول تحلیل کي مدني بنسټونه د افغانستان په ګډون په اکثرو هیوادونو کي د فشار د ډلي په ډول کړني ترسره کوي او د دولت د کړنو څخه څارنه کوي. چي دغه ډول نظارت معمولاً د سیمو څخه د کتني (دکمپونو، حمایتي خیمو او هغه مراکز چي اوس

د جوړیدو په حالت کي وي) په وسیله تر سره کیږي. په افغانستان کي د مدني بنسټونو دغه ډول نظارت په دوه ډوله تر سره سوي دي لومړي دا چي د افغانستان ادارو ته خپل تحلیلي راپور یا پیغام واستوي او یا دا چي نړیوالي ټولنه په دي اړوند په جریان کي واچوي. تر څو د افغانستان اداره او نړیواله ټولنه د هغو ستونزو او کیفیتونو دحال څخه باخبره کړي او پدي برخه کي یې خپل رسالت په دوه ډوله تر سره کړي دي یو د خبرو د لاري او بل د راپور په وسیله. دتاوتریخوالی سره دمبازی برخه کی هم همدا شیوه نوره هم پرمخ بیول کیدای شی.

## په افغانستان کي د مدني بنسټونو همږغی کوونکي رول

مدنی ټولنه دتساند او تساهل په روحیه کار کوی. د دوی ډیر ښه رول او نقش دادی چې ټولینزو مسایو کی همغږی راوسلای شی، د مدني بنسټونو د غه نقش چي د منځګړیتوب په نوم هم شهرت لري، معمولاً مدني بنسټونه په دغه نقش کي د نظارت، خبرو اترو او راپورڅخه وروسته خپل راټول سوې اطلاعات تر بحث لاندي نیسي او د چارو د فعالینو ترمنځ د اړیکي چي د نورو نهادونو،دولت، نړیوالي ټولني او مدني ټولني څخه عبارت دي سرته رسوي. په افغانستان کي د مدني ټولني د بنسټونو او حکومتی ادارو ترمنځ په اړیکو کي دخپل موجودیت سره سره یو ستونزمن کار هم ؤ او دي، ځکه چي په افغانستان کي مدني بنسټونه باید د عامه اداری لوړ پوړو او منځ پوړو چارواکو ته خپل اعتباري رول د یوه اغیزمن بنسټ په حیث په ثبوت وروسوي چي دا کار اکثراً په افغانستان کي د مدني ټولنو په وړاندي ستره ننګونه وه ځکه چي دغه ډول بهاني چي ګویا یو ځانګړي مدني بنسټ د خلګو باور د ځان سره نلري د دلسردی زمینه مساعده کړیده. مدنی ټولنه د خشونت په زایلولو اودشخړو په هواری، د اذهانو روښانتیا، د سولی او ثبات راوستو او د تفاهم، تساند، همغږی او د وروری د فضا په جوړیدو کی ډیر رول ادا کولای سی.

نو دلته دې نتیجې ته رسیږو چې خشونت دزایلولو وړ او ورته علمي لارې چارې شته خو مهم شرط دادی، چې ژوره مطالعه، تجربه او کافی مهارت موجود وي . که دا له یوې خوا علمي اصول لري او د مهارت غوښتنه کوي له بلې خوا دا یو هنرهم دی.

په افغانستان کې دیني شعایر او موسساتي چوکاټ او مدنی ټولنه د شخړود زایلولو لپاره مساعد دی، د همدارنګه ډیر الهي نصوص او احکام او د هغو ښه بیانول د دې ستونزې دحل سره ډېره مرسته کوي. مثلاً په مدینه منوره کې د یثرب نوم په مدینه بدلول او د ډیرو مسایلو لپاره نوی لارښوونی دخشونت برځای د عطوفت تبلیغ د دې ښه مثال دی همداسی هم په مکه کې د اسلام د خپرېدو مخکې داسې دور وو،چې حجرالاسود به د یوې قبیلې مشر د خاصو مراسمو په ترڅ لیږداواو د دی لیږد کې یو ډول منفی غرور او تعصب هم و، خو په یوه کال کې د څلورو قبیلو لانجه واقع شوه، د دغې لانجې د حل لپاره حضرت محمد(ص) یوه داسې د حل لاره ومونده،چې څلور واړه د نزاع طرفین ورباندې راضي او اختلاف حل شو.هغه داسې،چې دغه تیږه یې په یوه ټادرکې کېښوده او څلور مشرانو د ټادر څلور څنډې اوچتې کړې او موضوع حل شوه .دا دخشونتد له منځه وړلو یومثال و.مدبر او پوه اشخاص د منازعاتو د حل لپاره ډېرې غوره لارې پیداکولای شي.

## نتیجه

له بده مرغه اوسنی وخت کې افغانی ټولنه کی تاوتریخوالی تر بل هر وخت ډیر لیدل کیږی. حال داچې تاوتریخوالی په ټولو اسمانی ادیانو، مدونو مترقی قوانینو،عرف او ولسی دود-دستور او نرخونو کې غندل شوی دی. زموږ کلتور ولسی ادب، متلونو، روایاتو او کیسو او نکلونو کی خشونت ته د ملامتی ګوته نیول شوی ده اوعدالت او ټولنیز مساوات ستایل شوی دی. تاوتریخوالی ناوړه تولینز، سیاسی، اقتصادی اوکلتوری عواقب لری. باید د تاوتریخوالی لپاره مناسب او اغیزمن ګامونه اوچت شی، چې یو مهم رول دې برخه کې مدنی ټولنی ته وریه غاړه دی. مدنی نهادونه د دیموکراسی له فضا څخه په استفادی باید دی برخه رغنده برخه واخلی. څرنګه چې لیدل کیږی لا اوس هم رسنیو، مدنی فعالانو، متنفذینو او سیمه ییزو سپینږیرو او مشرانو دی مهمی

پیښې ته لږ اهمیت ورکړی دی. باید عامه اذهان دی برخی ته متوجه شی. دې برخه کې علمی لیکنې، څیړنې او په ورکشاپونو، سیمناورونو اودیپوهاوی غونډو کی پاملرنه یو لومړیتوب دی.

## وړاندیزونه

ټول هغه کسان چی ددی منفی پدیدی په ناوړه عواقبو پوهیږی، په دی فکر کی دی چی باید د تاوتریخوالی مخه ونیول شی. ددی دمخنیوی لپاره باید مناسبی لاری – چاری ولټول شی. د دغی ښکارندی د مخنیوی لپاره باید عامه اذهان او افکار روښانه او ټولنه له روانی پلوه له دغی ناروغې څخه وژغورل شی. په دی موخه لاندی وړاندیزونه لرم:

۱.درسنیوودنده دی برخه کی تر ټولو مهمه ده، چی خپل ټول پروګرامونه (خبررسول، ذوقی برنامی او معلوماتی برنامی) اصلاح او په سیده او ناسیده توګه د تاوتریخوالی د کمښت او له منځه وړلوته پاملرنه واړوی. له بده مرغه ځینی وخت رسنی په خپله په نااګاهانه ډول تاوتریخوالی ته  لار هواروی.  ددې نیمګړتیا د له منځه وړلو لپاره پکار ده چی رسنی باتجربه او په روانی مسایلو پوه اشخاصو څخه مشوره واخلی. آن دا چې وړاندیز کیږی چې دوی باید دا ډول تجربه لرونکی اشخاص د مشاور په توګه رسماً خپل تشکیل کی استخدام او له لاروښوونویې کار واخلی،  داځکه چی زموږ ګڼ شمیر رسنی چې د اوس لپاره یې نومونه نه اخلو مناسب نشرات نه لری.

۲.د دې ډول ګټورو سیمنارونوو سلسله دی دوام ومومی او مدنی نهادونو، دولتی ادارو،دینی علماوو،اهل معارف او سیمه ییزو مخورو سره دې په دی مسایلو بحث وشی او د حل لاری ومونډل شی. پرته له هغه به خدای ناخواسته ډیرو ناوړو ټولینزو عواقبو سره مخامخ شو.

۳.زموږ دینی علما دې دخپل ملی او دینی رسالت له مخې د موعظو او ددینی ارشاداتو د تبلیغ پرمهال دې موضوع ته کلکه پاملرنه وکړی.

۴.دخشونت قربانیانوته دی د نړیوالو موسسو مرسته جلب او دهغوی په مرسته دی د بیرته جبران زمینه برابره شی.

۵.په ښوونځیو کی د ښوونکو پاملرنه دی برخه کی ډیره ضروری ده. له بده مرغه په ګڼ شمیر ښوونځیو کی داسې ښوونکی مقرر شوی چی په خپله د خشونت منبع ګرځیدلی او د معلمی د سپیڅلی  دندی په اساساتو خبر ندی. د معارف د وزارت توجه دی برخه کی یو لومړیتوب دی.

۶.سره له دی چی الله الحمد زموږ پولیس د پنځلسو پخوا کلونو په پرتله ښه روزل شوی او خپلو مسلکی اخلاقو ته ځیر شوی دی، خوبیاهم دیو شمیر پولیسیو امنیتی او قضایی ارګانو چلند دی برخه کی داصلاحاتو غوښتنه کوی.

## اخځ


۱.قرآن عظیم الشان .

۲.دودیال، محمد بشیر.(۱۳۹۵)، دسازمانی شخړو مدیریت،: یار خپرندویه ټولنه، جلال آباد  م.م.۱۶-۱۰۴

۳.فیشر، سیمون ، ستیف، ویلیمر و دیگران.(۱۳۹۱) کاربامنازعه (مهارتها و راهبردها برای عمل) (مترجم:رحمان علی جاوید): نشر مرکز ملی تحقیقات پالیسی پوهنتون کابل: مطبعه طباعتی وصنعتی صبور، کابل ـ افغانستان  ص.۱۷، ۲۰، ۱۲۱، ۱۵۰، ۱۵۲، ۱۵۴

۴.عایل، ع.(۱۳۹۴)، تاوتریخوالی ، علمی مقاله، د لوړوو زده کړو وزارت علمی کنفرانس.

٥.Bercovitch, Jacob and Jackson, Richard, (٢٠٠٩), Conflict Resolution in the Twenty-first. University of Michigan Press. P. ٥٣, ٧٤.

٦.Hicks, Donna. (٢٠١١), Dignity: The Essential Role It Plays in Resolving Conflict : Yale University Press, P.١٣, ٤٩, ٩٨.
٧.Monk, Gerald. & Winslade, John(٢٠٠٠), Narrative Mediation: A new Approach to Conflict Resolution :Jossry- Bass Publishers, San Francisco. P.٣, ٤٥, ٦٣.

تذکر:
هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!